څکه چې هر څوک ارزښتمند دي

## د وګړو د حالت نړیواله راپور ۱۳۹۱

### په خوښه نه په اټکل: د کورنۍ تنظیم، بشری حقونه او پرمختګ

کابل، د ۱۳۹۱ کال د لړم د میاشتې ۲۸مه نیټه – داکتر لارنت زسلر، د ملګرو ملتونو د وګړو د صندوق نماینده او جلالت ماب ثریا دلیل، د عامی روغتیا وزیره په افغانستان کې د کورنۍ تنظیم په هکله عامه خبرتیا د د ملګرو ملتونو د وګړو د صندوق د سازمان د ۱۳۹۱ کال د وګړو د حالت د نړیواله راپور د خپرونې په دوران کې زیاتوی. د دغه را پور سرلیک دي، په خوښه نه په اټکل: د کورنۍ تنظیم، برشی حقونه او پرمختګ.

داکتر لارنت زیسلری وفرماییل،"ګله چې ښځې دی ته پیاوړی شي چې د خپل د باروری یا امیدواری له حقونو څخه ګټه واخلی، سره له دی چې امیدواره کیدل او یا حمل اخیستل یې په خپله خوښه وي، چې څه وخت حمل واخلی، ښځو ته دا توان ور په برخه کیږی چې خپلو نورو حقونو څخه هم ګټه پورته کړي لکه، د زده کړی او روغتیایی حقونه اوکولای شي په سرلوړی سره ژوند وکړي. خو په افغانستان کې یوازی ۲۲ په سلو کې ښځې چې اوسمهال واده لری د کورنۍ د نظیم له یو ډول اسبابو څخه کار اخلی، په داسی حال کې چې ۹۰ په سلو کې یې د کورنۍ تنظیم څخه خبرتیا لري. له دغه کار سره بی وزلی کمیږی، روغتیایی حالت ښه والی مومي، د جندر مساوات لا زیاتیږی، نوی ځوانان زده کړي پایته رسوی او په کاری قوه کې د ونډی زیاتوالی رامنځته کیږی."

د وګړو د نړیواله راپور په وینا له امیدواری څخه د مخنیوی د اسبابو لا زیات کارولو د نه غوښتلو امیدواریو په کمولو په نړیواله کچه د میندو مړینه ۴۰ په سلو کې کمه کړی ده. د میندو له مړینی څخه د دیرش په سلو کې نور هم مخنیوی کیدلای شي. داسی چې د کورنۍ تنظیم لپاره اړتیاری پوره شي، او د پرمختګ په لور هیوادونو کې چیری د ماشومانو تر منځ له دریو تر پنځو کلونو پوری واټن راشی نو د ماشومانو مړینه به ۴۶ په سلو کې کمه شي.

د وګړو د حالت نړیواله راپور په ډاګه څرګندوی چې د ټولو نارینه او ښځو لپاره د کورنۍ تنظیم برابرول اوږدمهاله هڅو ته اړتیا لري چې په یو وخت باید د روغتیایی سیستومونه پیاوړي شي، د وګړو د حقونو د ساتنې لپاره د قوانینو جوړول او پلی کول، د بی وزلۍ کمول، د زیانمنو دودونو او دستورونو ننګول، د ماشومانو واده کول له منځه وړل، د تبعیض ختمول، د لوژستیکی خنډونو لری کول او د ډیرو زیاتو اسبابو برابرول.

د عامی روغتیا وزیر جلالتماب داکتر ثریا دلیل زیاته کړه چې"د زیږونونو تر منځ کم واټن نه یوازی د باروری په توان باندی اغیزه کوي بلکه د میندو او ماشومانو له مړینې سره ژوره اړیکه لری. په ځانګړی توګه بیا که د دوه ماشومانو تر منځ واټن له ۲۴ میاشتو څخه کم وي. په افغانستان کې په هر دریو زیږونونو کې یو یې د ۲۴ ماشتو څخه کم واټن کې پیښیږی. دغه یو حقیقت دي چې زمږ په هیواد کې د میندو او ماشومانو په روغتیا باندی ژوره اغیزه لري. د افغانستان د ۲۰۱۰ کال د میندو د مړینی څیړنه څرګندوی چې په هیواد کې د د کورنۍ د تنظیم عصری میتودونه د ۲۰۰۳ کال په پرتله چې ۱۰٪ دوه برابره ۲۲ په سلو کې ته رسیدلی دي. خو لا ډیرو زیاتو هڅو ته اړتیا ده تر څو په افغانستان کې ټولې ښځې خپلو د امیدواری د روغتیا حق څخه ګټه پورته کړي. د افغانستان حکومت دا موخه ټاکلی ده چې د په ۲۰۱۶ کال کې د امیدواری د مخنیوی د اسبابو کارول ۴۰ په سلو ته لوړ کړي."

د لا زیاتو معلوماتو لپاره اړیکه:


د عامی روغتیا وزارت، کنشکا ترکستانی، بریښنا پته: Kaneshkaarab034@gmail.com

د ملګرو ملتونو د وګړو صندوق، ګایا کیتی ستریجیلی، بریښنا پته: chitistrigelli@unfpa.org